# د فالتو توکو د بیا کارولو په هکله د عامه پوهاوي پیغامونه





د توکو د بیا کارولو لپاره ځانګړي ماشینان (ریسائیکل
مشین) نه یوازې د توکو په نرخ کې ارزانوالئ راولي بلکه د
هیواد بیکار ځوانانو ته د کار آسانتیا هم برابروي او د
چاپیریال د پاکوالي سبب هم ګرځي. نو په دې هکله د هیواد له
ملي پانګوالو څخه زموږ دا غوښتنه ده چې په هیواد کې د یاد
ماشین لرونکو فابریکې پرانیزي

هڅه وکړی تر څو د کورنی استعمال شوی شیان یا وسایل د
دوهم ځل لپاره بیا  استعمال کړی لکه د فالتو وتلانو څخه
ګلدانی جوړول ... پدی توګه د چاپیریال څخه نه یوازی بیکاره
او فالتو توکې کمیږی بلکه د اسراف څخه مخنیوی کیږي او
د کور انګړ او ماحول مو هم ښایسته کیږی.

## د فالتو شیانو بیا کارول





خپل ماشومان او د ښوونځی زده کوونکي هم په دې
روحیه وروزی چې د چاپیرال اود خپل ماحول په
ښایست کې مبتکر (جوړونکي) او سلیقه مند واوسی

هڅه وکړئ چې د خپل کور د مستعملو توکو څخه د
کور د ښایست لپاره کار واخلئ، که چیرې تاسو د کور
فالتو او مستعمل شیان د غورځولو پر ځای د کور د
ښائست لپاره وکاروی، انګړ او کور ته مو په وړیا  یا په
ډیر لږ لګښت سره ښکلا او سلیقه راولئ





فالتو توکي او اضافي شیان د غورځولو پر ځاي
په یوه کارټن یا صندخ کې ټول کړی او ویې ساتئ
هر وخت چې مو هنری ذوق او سلیقه وپاریدی نو
د پورته شیانو په ډول یوه شي ځیني جوړ کړی



Human Resources
Development Agency (HRDA)

د بشري قواوو
د انکشاف اداره (بقاء)